Leicester City Council

پښتو / Pashto

# د پناه غوښتونکو له ځای څخه وتل

## د لیسټر لاربښود د هغو خلکو لپاره چې د کډوالۍ ویزه لري

### پېژندنه

د دې سند موخه د هغو خلکو سره مرسته کول او ورته مشوره ورکول دي چې په دې وروستیو کې د بیا مېشتېدنې په راتلونکو ګامونو کې د کډوالۍ اسناد ترلاسه کړي دي. تاسو به اړ یاست چې د اسنادو ترلاسه کولو نه وروسته په 28 ورځو کې دننه خپل د کورنیو چارو وزارت (Home Office) استوګنځي پرېږدئ. مونږ پوهیږو چې دا تاسو ته ډیر وخت نه درکوي، نو دا خورا مهمه ده چې تاسو د دې لپاره پلان پیل کړئ چې ستاسو لپاره د چمتو شوي هستوګنځي د پرېښودو وروسته به څه وکړئ.

ستاسو راتلونکی ګامونه باید دا وي:

1. یو بانکي حساب پرانیزئ: تاسو اړتیا لرئ چې یونیورسل کریډیټ ترلاسه کړئ، د کار پیسې ترلاسه کړئ او/یا خپله کرایه ورکړئ.
2. د یونیورسل کریډیټ غوښتنلیک: دا د دولت لخوا د هغو خلکو لپاره میاشتنۍ پیسې دي چې هېڅ یا ټیټ عاید لري. تاسو کولای شئ د کار مرکز (Job Centre) څخه د دې غوښتنلیک د وړاندې کولو د څرنګوالي په اړه مرسته ترلاسه کړئ.
3. د کار په لټه کې شئ: تاسو کولای شئ د کار مرکز (Job Centre) او د لیسټر د کارموندنې مرکز ( Leicester Employment Hub) څخه ملاتړ ترلاسه کړئ.
4. د کور لټول: دا به شاید په یوه فلیټ/کور کې یوه کوټه وي چې ستاسو به له نورو سره شریکه وي.

په لیسټر کې د کور موندل خورا ستونزمن کار دی. کرایه ډیره ده، د ښاروالۍ استوګنځي لپاره د انتظار وخت ډیر اوږد دی، د ارزانه کور نشتوالي له امله، او ډیری خلک د استوګنې د ځای په لټه کې دي.

ښاروالي ممکن تاسو ته د استوګنې ځای پیدا نه کړي، او دا مهمه ده چې تاسو د خپل استوګنځي په لټه کې شئ. تاسو ممکن په لنډ وخت کې د ملګرو یا کورنۍ سره پاتې کیدو ته پام وکړئ. په یاد ولرئ کله چې تاسو ځای په ځای شئ او د اوږدې مودې ژوند کولو لپاره د ځای موندلو لپاره ډیرې پیسې او وخت ولرئ نو تاسو هر وخت کولای شئ یو بل ځای د اوږد مهاله اوسیدلو لپاره پیدا کړئ.

**مهم**

که تاسو خپل BRP (د استوګنې ویزې بایومیټریکي) کارت نه وي ترلاسه کړی یا ستاسو د BRP کارت کې کومه غلطي شتون ولري، تاسو باید ژر تر ژره د مهاجرینو مرستې (Migrant Help) سره اړیکه ونیسئ، ځکه چې هغوی کولای شي ستاسو لپاره دا اجازه ترې و غواړي چې ستاسو په اوسني استوګنځي کې تر هغه وخت پورې پاتې شئ تر څو مو دا ستونزه حل شي.

که تاسو پورتنۍ پروسې تعقیب کړئ، تاسو باید د خپل استوګنځي څخه تر هغه ونه ایستل شئ تر څو تاسو خپل BRP د سمو معلوماتو سره تر لاسه کړی نه وي.

**یو بانکي حساب جوړ کړئ**

مخکې له دې چې تاسو خپل NASS استوګنځای پریږدئ تاسو باید ژر تر ژره یو بانکي حساب جوړ کړئ دا د دې لپاره چې تاسو د یونیورسل کریډیټ او/یا کله چې کار پیل کړئ د معاش/مزد پیسې به دلته راځي.

ډیر مختلف بانکونه شتون لري. د ډیجیټل بانک سره د حساب تنظیمول ترټولو اسانه دی.

تاسو به اړتیا ولرئ خپله د تلیفون شمیره او بریټنالیک آدرس او همدارنګه ستاسو د هویت او آدرس ثبوت چمتو کړئ.

د هویت سند کیدای شي یو د لاندې څخه وي:

- پاسپورټ
- د اوسیدو بایومتریکي اجازه
- د مهاجرت د اسنادو پاڼې

د آدرس د اسنادو ثبوت کیدای شي دا وي:

- د کورنیو چارو وزارت (Home Office) یو لیک
- وروستی بل

د کډوالو شورا (The Refugee Council) په انګلیسي او نورو ژبو کې د لاربنود تفصیلي سند چمتو کړی دی:

https://www.refugeecouncil.org.uk/latest/news/refugee-council-launches-new-guide-to-help-refugees-open-a-bank-account/

که تاسو لاهم بانکي حساب نلرئ او تاسو نور آدرس نلرئ، ځینې بانکونه شته چې تاسو ته به اجازه درکړي چې یو حساب خلاص کړئ.

تاسو کولای شئ په انټرنیټ کې دا انتخابونه ولټوئ، یا د مهاجرت مرستي (Migrant Help) څخه پدې اړه مشوره وغواړئ.

## د یونیورسل کریډیټ عریضه وړاندې کړئ

یونیورسل کریډیټ د حکومت لخوا د هغو خلکو لپاره میاشتنی پیسې دي چې کار نه لري، کار نشي کولای یا کم عاید ولري. دا مهمه ده چې تاسو ژر تر ژره دا غوښتنه وکړئ ځکه چې دا به د دندې موندلو د مخه ستاسو د کرایې او لګښتونو د ورکولو لپاره وکارول شي.

**څنګه به عریضه وړاندې کړئ**

تاسو اړتیا لرئ آنلاین حساب جوړ کړئ: https://www.universal-credit.service.gov.uk/start

تاسو اړتیا لرئ چې د یونیورسل کریډیټ د ترلاسه کولو د مخه، یو بانکي حساب جوړ کړئ.

د دې غوښتنلیک د وړاندې کولو لپاره به تاسو څه ته اړتیا ولرئ

- ستاسو د بانکي حساب معلومات
- د بریښنالیک آدرس
- یو تلیفون ته لاسرسی

**تاسو اړتیا لرئ خپل هویت ثابت کړئ. مثالونه کې شامل دي (ټول اړین ندي)**

- د اوسیدو بایومتریکي اجازه (BRP)
- د موټر چلولو جواز
- پاسپورټ
- ډیبېټ یا کریډېټ کارت
- Payslip یا P60

**تاسو اړتیا لرئ چې د لاندې شیانو په اړه معلومات چمتو کړئ (که دا په تاسو پورې اړوند وي)**

- ستاسو کور (تاسو څومره کرایه ورکوئ)
- ستاسو عایدات (د تنخوا رسیدونه)
- هر ډول معلولیت یا روغتیایی حالت چې ستاسو د کار کولو په وړتیا اغیزه کوي
- هر ډول سپما (ذخیره شوې پیسې) چې تاسو یې لرئ

**ستاسو په غوښتنلیک کې مرسته**

که تاسو په خپله عریضه کې مرستې ته اړتیا لرئ یا آنلاین عریضه نشئ کولای، نو تاسو کولای شئ د یونیورسل کریډیټ د مرستې شمېرې له لارې د تلیفون له لارې عریضه وړاندې وکړئ: 0800 328 5644 (د تلیفون دا شمیره وړیا ده).

**یو کار پیدا کړئ**

دا خورا ستونزمن کار دی چې تاسو ټول لګښتونه د یونیورسل کریډیټ څخه پوره کړئ، نو دا واقعیا مهمه ده چې تاسو د خپل ځان ملاتړ کولو کې د مرستې لپاره کار پیدا کړئ.

**د کار مرکز (Job Centre)**

د کار مرکز (Job Centre) کولای شي تاسو سره د کار چمتو کولو، لټولو او پرمختګ کې مرسته وکړي. تاسو کولای شئ خپل سیمه ایز د کار مرکز (Job Centre) دلته پیدا کړئ:

https://find-your-nearest-jobcentre.dwp.gov.uk/search.php

**د لیسټر د کارموندني مرکز (Leicester Employment Hub)**

د لیسټر د کارموندني مرکز (Leicester Employment Hub) د ځایی خالي کاري ځایونو اعلان هم کوي

https://www.leicesteremploymenthub.co.uk/ (په Job Seeker کلیک وکړئ)

**دوه ګونی کار او روزنه (TWIN Employment and Training)**

2nd Floor, 60 Charles St, Leicester LE1 1FB

په ټول انګلستان کې د کار غوښتونکو، کار ګمارونکو او ځوانانو لپاره روزنه او خدمتونه

تلیفون: 020 8269 5695

**د سینټ مونګوز، د کارموندنې خدمتونه (St Mungo's, Employment Services)**

سینټ مونګوز د هغو کسانو لپاره چې د کار په لټه کې دي د مخامخ ناستي وړانیز کوي. دا ټیم د کار لټون او غوښتنلیکونو کې د ملاتړ وړاندیز کوي. دوی به تاسو سره د مرکې تمرین، د کار ځای پرځای کولو او احتمالي کارګمارونکو ته د لیدنو په وړاندي کولو سره د 'کار چمتو کولو' کې مرسته وکړي. همدارنګه که اړتیا وي سېنټ مونګوز کولای شي د کار لپاره د سفر یو څه مالي ملاتړ او هر ډول کاري جامې چمتو کړي، او په لومړیو دوه اونیو کې ستاسو سره مرسته وکړي. دا ټیم همدا رنګه روزل شوی ترڅو تاسو ته د بنیفټ او د هغه اغیزو په اړه چې کار کول یې ممکن پر دي ولري، روښانه مشوره او لارښوونه درکړي.

د سینټ مونګوز سره احتمالي مراجعین اړتیا لري چې په انګلستان کې د کار کولو حق ولري او د حوالي لپاره د هغوی کلیدي کار کوونکي/ ملاتړ کونکي ته دا معلومات ورکړي.

د نورو پوښتنو یا د ملاتړ غوښتلو لپاره دلته بریښنالیک ولیږئ: recoverycollegeleicester@mungos.org

**د کور لټول**

په انګلستان کې د کورونو بحران شتون لري. کرایه په ریکارډ کې ترټولو لوړه ده او د ارزانه کورونو کمښت شتون لري. د لیسټر ښار ښاروالي په سیمه ایزه توګه د کورونو بحران اعلان کړی دی.

که تاسو بې کوره یاست او په چټکۍ سره کور ته اړتیا لرئ، نو دا ډیر امکان نلري چې تاسو به د ښاروالی یا د هستوګنې اتحادیې کور ترلاسه کړئ.

په لنډ وخت کې په لیسټر کې د ښاروالی کور موندل واقعیا ستونزمن - نږدې ناممکن دي. تاسو کولای شئ د ټولنیز کور لپاره د انتظار وختونو په اړه نور معلومات چې ستاسو د کور غوښتنلیک راجستر کیدو نه وروسته څه پیښیږي، د لیسټر FAQs کې ومومئ:

https://www.leicester.gov.uk/your-community/housing/apply-for-housing/guidance-and-faqs/faqs-about-what-happens-after-your-housing-application-is-registered/

دا پدې مانا ده چې تاسو اړتیا لرئ یو ثابت کور له بلې لارې پیدا کړئ.

دا به تر هغه چې دا مناسب وي عموما په خصوصي کرایه شوي سکټور کې وي (د راهنمای معاملات، یا د شخصي کور مالک سره)، مګر دا ممکن د کورنی، ملګرو، یا ملاتړ شوي استوګنځي سره هم وي. په دې اړه د نورو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ راتلونکی برخه ولولئ.

**شخصي کرایه شوي کورونه**

د بې کوره کیدو څخه د بیرته راګرځیدو لپاره ستاسو ترټولو غوره او ګړندی انتخاب د خصوصي سکټور کرایي کور دی.

شخصي کرایه شوی کور د کور مالک سره قرارداد ده؛ هغوی دا تاسو ته د یوې مودې لپاره په کرایه درکوي، او تاسو خپله کرایه مستقیم د کور مالک ته ورکوئ. دا ډیر احتمال لري چې ترټولو ګړندی لاره او د هستوګنځي انتخاب د تاسو لپاره وي. په شخصي توګه د کرایه کولو ګټو کې دا ده چې معمولا سمدلاسه شتون لري، او همدارنګه تاسو ته د هغه ځای په اړه چې تاسو په کې اوسیږئ غوره انتخاب درکوي.

په لیسټر کې د ځایی هستوګنځي تخصیص (د کور بنیفټ) نرخونه د اوسط کرایي څخه ټیټ دي، نو تاسو اړتیا لرئ د ډیرو کورونو لټولو ته تیار اوسئ، که څه هم مونږ کولای شو په ډیری قضیو کې د کورونو په ارزانه کولو کې مرسته وکړو.

**تاسو چیرې شخصي کرایه شوي استوګنځي پیدا کولای شئ**

- په ښار کې د راهنمای معاملات.
- محلي ورځپاڼي لکه د لیسټر مرکیوري او د ټولنې مرکزونه، کتابتونونه، یا دوکانونه.
- په لاندې مشهورو ویبپاڼو کې یې آنلاین وګورئ: Zoopla، Rightmove او Spareroom

دا ګټوره ده چې په یو وخت کې ډیر کورونه ولټوئ ځکه چې کورونه په چټکۍ سره کرایه کیږي، او ځینې اعلان شوي کورونه ممکن شتون ونلري.

دا ښه ده چې د ملګرو یا هغو خلکو سره یې ولټوئ چې تاسو یې پیژنئ ځکه چې دا به د لټون پروسه اسانه کړي.

مونږ پوهیږو چې د خصوصي کرایي سکټور کیدای شي ګران وي، مګر مونږ ډیر پروګرامونه لرو چې تاسو سره به د داسې کور په موندلو کې مرسته وکړي چې تاسو یې توان ولرئ او په خوښی سره ژوند په کې وکړئ. مونږ به تل دا ډاډ ترلاسه کړو چې کور ارزانه، ستاسو لپاره کافي لوی او په ښه حالت کې وي.

**مونږ کولای شو د خنډونو په لرې کولو کې مرسته وکړو لکه:**

- له توان نه پورته کور
- د بیانیې لپاره د پیسو جمع کول
- د کور مالکان چې د بنیفټ عاید د کرایې په توګه و مني.

**مونږ څنګه کولای شو د دې خنډونو په لرې کولو کې مرسته وکړو:**

- د کور مالکانو ته له مختلفو لارو د پیسو جمع کول.
- له وړاندې د کرایې یا بیانیې برابرول.
- که چیرې کرایه ستاسو د ځایی کورونو د تخصیص څخه لږ څه لوړه وي نو د تشې ډکول.
- تاسو او د کور مالک دواړو ته د کرایې اوسیدلو ملاتړ چمتو کول ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې کارونه پر مخ ځي.

**سپمول**

که تاسو مجرد یاست او د 35 کلونو څخه کم عمر لرئ او هیڅ ماشومان نلرې، د کور پیسو اندازه چې تاسو یې د یونیورسل کریډیټ څخه ترلاسه کوئ به د "شریک کور په نرخ" وي.

دا پدې مانا ده چې په ډیری احتمال تاسو به یواځې په ګډ کور / فلټ کې د یوې کوټې لپاره بودیجه ولرئ.

هغه اندازه چې تاسو یې ترلاسه کوئ د محلي هستوګنځیو د پیسو (Local Housing Allowance) پر بنسټ ده. د دې مونډلو لپاره چې دا په مختلفو سیمو کې څه فرق لري دا ویب پاڼه وګورئ /https://www.leicester.gov.uk او د 'Local Housing Allowanc'.

**زه باید څه وکړم؟**

که تاسو بې کوره یاست یا د بې کوره کېدو په خطر کې یاست، دا درې لومړني ګامونه تعقیب کړئ:

- د کور انتخاب خدمت (Housing Options service) سره په 0116 4541008 اړیکه ونیسئ ترڅو د بې کوره خلکو غوښتنلیک وړاندې کړئ او د خپل کور د انتخابونو په اړه مشوره ترلاسه کړئ.
- په لیسټر کې د داسې قیمت په حد کې کور وګورئ چې مونږ کولای شو تاسو سره مرسته وکړو په:
  - شریکه یا یواځې کوټه (د 35 کلونو څخه کم عمر) - اعظمي کرایه £455
  - د 1 خوب کوټې لرونکی کور - اعظمي کرایه £605
  - د 2 خوب کوټو لرونکی کور - اعظمي کرایه £760
  - د 3 خوب کوټو لروکی کور - اعظمي کرایه £910
  - د 4 خوب کوټو لرونکی کور - اعظمي کرایه £1,200
- یوځل چې تاسو کور ولید او د کور مالک / استازي خوښ وي چې پرمخ ولاړ شي، نو له Housing Options service سره په 0116 4541008 اړیکه ونیسئ یا د خپلې دوسیې له کارمند سره اړیکه ونیسئ. بیا مونږ کولای شو ستاسو په استازیتوب د کور مالک سره وغږیږو او د هغه پروګرامونو په اړه چې موږ یې وړاندیز کوو ور سره خبرې وکړو.

**د کوڅې بې کورۍ ملاتړ**

که تاسو داسې يو څوک پيژنئ چې په سړکونو کې ويده کيږي، نو په 0300 500 0914 شمېره Streetlink ته زنګ ووهئ يا يې د هغوی ويب پاڼې ته معرفي کړئ: www.thestreetlink.org.uk

که تاسو داسې يو څوک پيژنئ چې نژدې ده بې کوره شي، تاسو کولای شئ د ليسټر د بې کوره کيدو د مخنيوي خدمتونو ( Leicester's Homelessness Prevention Service) ته په 1008 454 0116 شمېره تليفون وکړئ.

که تاسو پر سړک بې کوره ياست، تاسو کولای شئ 2212770 0116 شمېرې ته د تليفون کولو له لارې مشوره او ملاتړ ترلاسه کړئ. دا شميره د ورځې 24 ساعته، په اونۍ کې 7 ورځې شتون لري.

**ګرم ځايونه او د ورځې مرکزونه**

دلته داسې ځايونه شتون لري چې کولای شې د مشورې، ډوډۍ او حمامونو په وړاندې کولو سره ستاسو ملاتړ وکړي:

The Bridge – Homelessness to Hope, Hope Centre 43 Melton Street, Leicester

دوشنبه، سه شنبه، پنجشنبه او جمعه د سهار له 9:30 بجو څخه تر ماسپښين 2:30 بجو پورې. شنبه د سهار له 9 بجو څخه تر ماسپښين 1 بجې پورې

د Y مشورې او ملاتړ مرکز (YASC)، 165 ګرانبي سړک، ليسټر.

دوشنبه تر جمعې د سهار له 8-10 بجو

د بې کوره سره مرسته (Help the Homeless)، 165 Granby Street, Leicester

پنجشنبه د ماسپښين له 12 بجو څخه تر 4 بجو پورې

د مرکز پروژه (The Centre Project)، 1 Alfred Place, Leicester

سه شنبه، پنجشنبه او جمعه د سهار له 10 بجو څخه تر ماسپښين 4 بجو پورې

د شته خوراکي خدمتونو ليست دلته موندلی شئ: www.leicesterhomelesscharter.co.uk/news/meals-for-people-experiencing-homelessness

**نور سازمانونه چې کولای شي د مرستې وړاندیز وکړي**

Leicester City of Sanctuary, 43 Melton Street, Leicester

بریښنالیک: contactus@leicester.cityofsanctuary.org

د برتانیا سره صلیب د کډوالو خدمت، 27 East Street Leicester

بریښنالیک: RefugeeSupportWY@redcross.org.uk

د The Race Equality Centre، 1st Floor, Highfields Centre, 96 Melbourne Road, Leicester, LE2 0DS

ټلیفون: 0116 204 2797

د The Race Equality Centre د کور، بنېفټونو او عمومي هوساینې کې مرسته کوي. دوی د چیل 'اېن' چټ ګروپ لري چې په اونۍ کې یو ځل ملاقات کوي او په وړو پټیو یا د مرکز 'کارابونوی' کفې کې مختلف رضاکارانه رولونه وړاندې کوي. دا مرکز همدارنګه د سفر ویزې، پاسپورټ بشپړولو، او کډوالۍ داسې نورو خدمتونه په ټیټ نرخ سره وړاندې کوي.